مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۵/۱۰/۱۳

# بېګټې

يادونه دي بېګټې، او دردونه دي بېګټې
پيدا به چېرې نه شي، ټول کارونه دي بېګټې

چې وس مې رسېدلی، هريو کلي ته يم تللی
ترسترګو څه رانه‌غلل، سفرونه دي بېګټې

خوارئ مې پسې وکړې، خو دردونه درمندونه
زه نه‌يم ستړی شوی، درمندونه دي بېګټې

لټون بېګټې شوی، سر او پښې مې دي حيرانه
ثابته شوله دا چې، لټونونه دي بېګټې

نارېسورې بېګټې او اهونه دي بېګټې
دردناکې شپې ستړې او غمونه دي بېګټې

نړئ مې ترپښو لاندې کړه د تا په يونظر پسې
چې ته مې پيدا نه کړې، قدمونه دي بېګټې

۲۰۲۴/۰۸/۰۶
کوپنهاګن
ډنمارک

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ